مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۰۸** (از ۱٦ الی ۲۳ حوت ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

**انتظار از سفر سران حکومت وحدت ملی به امریکا**

- روابط افغانستان و امریکا ........ ۴
- برنامهٔ سفر به امریکا ........ ۴
- تقاضای دوام کمک اقتصادی درازمدت ........ ۵
- برنامهٔ صلح ........ ٦

**افغان کډوال او له پاکستانه يې د راستنېدو قضيه**

- د افغان کډوالو د راستنېدو بهير (جنوري-مارچ) ........ ۹
- د اسلام‌آباد دريځ ........ ۱۰
- د کابل دريځ ........ ۱۱
- پر دوه اړخيزو اړيکو د کډوالو د قضيې اغېزې ........ ۱۲

## مقدمه

تېر اونۍ په دوو ورځو کې بشپړ ولسمشر اشرف غني او اجرائيه رئيس ډاکتر عبدالله په ګډه امريکا ته سفر وکړ. په دغه سفر کې يې له ولسمشر بارک اوباما او امريکايي چارواکو سره ليدنه وکړه.

امريکا ته د ملي وحدت حکومت د مشرانو سفر داسې مهال ترسره کېږي، چې په داخلي کچه له زياتو ستونزو سره مخ دي. د دغه حکومت د مشرانو ترمنځ د خپلمنځي اختلافاتو له کبله، د نوي حکومت له جوړېدو څه باندې پينځه مياشتې وروسته لاهم د حکومت کابينه نه ده تکميل شوې او له بلې خوا د اداري فساد په څېر د ځينې نورو مهمو موضوعاتو په تړاو هم شوې ژمنې نه دي پوره شوې. دا ستونزې او اختلافات په داسې کچه کې دي، چې حتی امريکا ته د سفر پر سر هم د دواړو مشرانو ترمنځ جنجال رامنځته شوی. خو که دا سفر په ټاکلې نېټه ترسره شي، د سفر اجنډا او د بحث اصلي موضوعات به څه وي؟ او همدا راز د دغه سفر اغېزې او لاسته راوړنې به څه وي؟

د دې ترڅنګ له تېرو څو مياشتو راهيسې په پاکستان کې افغان کډوال په خورا ناوړه وضعيت کې دي او يوازې د روان ژمي په دوو مياشتو کې تر ۵۰ زره زيات افغان کډوال له پاکستانه راستنېدو ته اړ شوي دي. له همدې امله د افغانستان د کډوالو چارو وزير عالمي بلخي د يوه پلاوي په مشرۍ پاکستان ته ولاړ او د هغه هېواد له چارواکو سره يې په دې اړه خبرې وکړې. دا چې پاکستان ته د کډوالو چارو د وزير په سفر کې د دواړو لورو ترمنځ په شويو هوکړو کې د پام وړ ټکي کوم وو؟ دواړه لوري د افغان کډوالو د بېرته راستنېدو په تړاو څه دريځ لري؟ او دا قضيه د دواړو هېوادونو پر دوه اړخيزو اړيکو څه اغېزې لري؟

د دې اونۍ په تحليل کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز د څېړنيزې څانګې شننې لولئ.

# انتظار از سفر سران حکومت وحدت ملی به امریکا



در اواخر سال ۲۰۱۴ میلادی که حکومتی به نام وحدت ملی در افغانستان شکل گرفت، خبر از سفر رئیس جمهور اشرف غنی به امریکا بگوش می‌رسید. گفته می‌شد که این سفر در ماه جنوری سال ۲۰۱۵ صورت خواهد گرفت.

اما به نظر می‌رسد که برای اجرای کاری در حکومت وحدت ملی، نباید عنصر زمان را زیاد جدی انگاشت. از تشکیل خود حکومت گرفته تا اعلام کابینه و سفر به امریکا و چندین مسئلهٔ مهم دیگر که برای عملی شدن آن‌ها زمان معین اعلام شد اما بعدا دچار تعویق گردید، نشان داد که نباید زیاد به زمان اعلام شده برای اجرای یک کار از طرف این حکومت اعتماد کرد.

اگر به اخباری که از منابع نزدیک به حامدکرزی رئیس جمهور پیشین نشر شده اعتماد نماییم، مانند بسیاری مسایل دیگر، بر سر سفر به امریکا نیز میان دو رهبر حکومت وحدت ملی اختلاف است. از گنجایش در طیارهٔ حامل هیئت گرفته تا ملاقات با اوباما که قرار است فقط با اشرف غنی صورت گیرد و رئیس اجرائیه تهدید کرده که اگر او هم در این ملاقات حضور نداشته باشد، این سفر را تحریم خواهد کرد.

پس تأخیر در سفر کاملاً "طبیعی" است چنانچه سفر جناب شان به ایران هم که قرار بود در ماه فبروری صورت گیرد، به دلیل برف کوچ ملتوی شد. پس "عوامل طبیعی" هم می‌تواند روی دیپلوماسی و سیاست در افغانستان تاثیر گذار باشد.

ACKU

## روابط افغانستان و امریکا:

از سال ۲۰۰۱ که نیروهای امریکایی با مجوز شورای امنیت سازمان ملل به افغانستان حمله کرده و رژیم طالبان را سرنگون ساختند، روابط میان امریکا و افغانستان رابطه میان یک کشور مسلط و کشوری تحت سلطه بود. تا زمانیکه حاکمیت در قصر سفید به دست جمهوری خواهان بود، روابط میان کابل و واشنگتن گرم و صمیمانه بود؛ اما به تدریج شکایت از شیوۀ عملکرد نیروهای نظامی خارجی در افغانستان و بی‌تفاوتی امریکا در برابر مداخلات پاکستان در افغانستان، اعتراض برانگیز شد.

حامدکرزی از امریکا می‌خواست تا پاکستان را زیر فشار قرار دهد تا از حمایت طالبان دست بردارد، اما امریکا به این خواست توجهی نداشت. به تدریج انتقادهای کرزی از امریکا به دلیل تلفات غیرنظامی روستا نشینان افغان، شکل علنی‌تر به خود گرفت و تلاش ریچارد هالبروک نمایندۀ وقت امریکا برای افغانستان و پاکستان برای کنار نهادن کرزی در انتخابات ریاست جمهوری، به عکس العمل‌های شدیدتر از جانب وی مواجه گردید. به تدریج این تیره‌گی روابط به جایی رسید که حامدکرزی در ماه‌های اخیر ریاست جمهوری خویش، از امضای قرارداد امنیتی با امریکا نیز خودداری ورزید.

بنابراین بازسازی روابط میان امریکا و افغانستان که در دوران ریاست جمهوری کرزی صدمه دیده است، از اهداف سفر سران حکومت وحدت ملی خواهد بود.

اشرف غنی فردای روزی که به ریاست جمهوری رسید، قرارداد امنیتی با امریکا را امضا کرد و به این ترتیب در آغاز کار خویش به عنوان رئیس جمهور افغانستان، تلاش نمود تا اعتماد امریکا را به خود جلب نماید.

ACKU

## برنامۀ سفر به امریکا:

در یک مسئله شک وجود ندارد و آن اینکه این سفر حتما در سال ۲۰۱۵ صورت می‌گیرد و موضوع دیگری که نباید در آن شک کرد این است که اشرف غنی به تنهایی به این سفر نخواهد رفت بلکه وی را داکتر عبدالله عبدالله رئیس اجرائیه نیز همراهی خواهد نمود، زیرا او نمایندۀ نیمی از قدرت دولتی در این کشور است. اما این سفر زمانی می‌تواند به نتیجۀ مطلوب برسد که بر بنیاد یک برنامه و اجندای حساب شده و دقیق صورت گیرد.

با توجه به تقاضای رئیس جمهور از بدو به قدرت رسیدنش در مورد اینکه باید در تاریخ خروج نیروهای امریکایی از افغانستان تجدید نظر صورت گیرد، می‌توان گفت که یکی از تقاضاهای مهم اشرف غنی از امریکایی‌ها همین موضوع خواهد بود. هرچند در طول دو سال گذشته در مورد ظرفیت و توان رزمی نیروهای افغان تبلیغات فراوان صورت گرفته و خارجی‌ها نیز در این مورد ابراز اطمینان نموده‌اند، اما حقایق در میدان جنگ نمایانگر مشکلاتی است که این نیروها به آن مواجه اند. رئیس جمهور به این باور است که دوام حضور حتی غیررزمی نیروهای خارجی هم می‌تواند روحیهٔ نیروهای افغان را تقویت نماید.

از جانب دیگر با توجه به آغاز فعالیت گروه دولت اسلامی (داعش) در افغانستان، اشرف غنی از امریکا خواهد خواست تا در جهت آموزش و تجهیز نیروهای افغان با جدیت بیشتر عمل نماید. به خصوص نیروی هوایی اردوی افغانستان را با طیارات جنگنده مجهز سازد.

هرچند رئیس جمهور غنی پیمان امنیتی با امریکا را امضا نموده، اما این پیمان دارای نقاط ابهام فراوان است که هیچ تعهد پایداری را برای کمک به افغانستان متوجه امریکا نمی‌سازد. این درحالیست که تلفات نیروهای افغان در یک سال گذشته افزایش یافته و فرار این نیروها نیز چالش بزرگی را متوجه این نیروها ساخته است. بحث روی این مسایل می‌تواند بخشی از اجندای مذاکرات میان دو طرف باشد.

## تقاضای دوام کمک اقتصادی درازمدت:

موفقیت دولت جدید بدون کمک اقتصادی از خارج ناممکن است. اقتصاد افغانستان در طول سیزده سال گذشته به تزریق پول از خارج معتاد گردیده است. فقر و بی‌کاری بعد از سال ۲۰۱۴ در افغانستان در حدی که در طول سیزده سال گذشته سابقه نداشته، افزایش یافته و عواید دولت رو به کاهش نهاده است. به حدی که ممکن است در چند ماه آینده، دولت توان پرداخت معاشات مامورین خود را نداشته باشد. این وضع چالش بزرگی فرا راه حکومت وحدت ملی قرار داده است.

امریکا در طول سیزده سال گذشته در افغانستان حاضر به سرمایه‌گذاری در بخش‌های زیربنایی این کشور نشد؛ بنابراین دشوار است اگر اشرف غنی در این سفر بتواند امریکا را که در کشورهای دیگر درگیر مشکلات فراوان است به کمک به سرمایه‌گذاری‌هایی از این دست در افغانستان وادارد، اما اگر وی بتواند مقامات واشنگتن را به ادامهٔ کمک به پروژه‌های نیمه‌کاره وادارد، کار بزرگی انجام داده است. هرچند گفته می‌شود که سیاست‌های حامدکرزی

موجب گردید تا افغانستان دیگر در اولویت‌های امریکا نباشد، اما حقیقت اینست که حتی اگر حامدکرزی روابط گرمی با امریکا نیز می‌داشت، با توجه به تحولات جدیدی که در جهان به میان آمده، افغانستان دیگر نمی‌توانست در صدر اولویت‌های امریکا باقی بماند.

اما ایالات متحدۀ امریکا می‌تواند به شکل دیگری افغانستان را در کاهش مشکلات اقتصادی یاری نماید و آن اینکه با وارد آوردن فشارهای سیاسی و اقتصادی برای تسریع بعضی از پروژه‌های تجارتی و ترانزیتی مانند پروژه‌های راه لاجورد، CASA1000 و تاپی که از مسیر افغانستان می‌گذرد، افغانستان را یاری نماید اما تطبیق عملی این پروژه‌ها هم بدون صلح و امنیتناممکن است.

## برنامۀ صلح:

موضوع مهم دیگری که در اجندای مذاکرات سران دولت وحدت ملی و امریکا شامل خواهد بود، موضوع برنامۀ صلح است. اشرف غنی بارها گفته است که افغانستان بدون رسیدن به صلح به جایی نخواهد رسید.

هرچند پاکستان به اشرف غنی وعده داده است که طالبان را به پشت میز مذاکرات صلح خواهد آورد و اشرف غنی نیز اعلام داشت که افغانستان در طول سه دهۀ گذشته هیچ‌گاه اینقدر فرصت رسیدن به صلح را نداشته است، اما به تدریج مسایل دیگری به میان آمده که بار دیگر صداقت پاکستان را در جهت کمک به پروسۀ صلح، زیر سوال برده است.

اگر تا قبل از سفر اشرف غنی به واشنگتن، مذاکرات صلح آنگونه که پاکستان وعده داده، به صورت جدی آغاز گردد و در این مذاکرات نمایندگان باصلاحیت طالبان از دفتر قطر شرکت نمایند، اشرف غنی در موقعیت بسیار مناسب و دست پر به واشنگتن خواهد رفت و دست‌آوردهای خوبی خواهد داشت.

اما اگر پاکستان نخواهد یا نتواند که طالبان را به مذاکرات صلح تشویق نماید، این کار به معنای شکست بزرگی برای حکومت وحدت ملی خواهد بود؛ زیرا در برابر امتیازاتی که به پاکستان داده، چیزی بدست نیاورده است. در این صورت اشرف غنی در یک موقعیت ضعیف راهی واشنگتن خواهد شد.

ACKU

گرچه ناممکن است که اشرف غنی قبل از تکمیل کابینه به سفر واشنگتن برود، اما تشکیل کابینه تنها خواست امریکا نیست. امریکا از افغانستان خواستار مبارزۀ جدی علیه فساد اداری است. دیگر هیچ کشوری حاضر نخواهد بود به افغانستان، که به فساد اداری مشهور است، مانند گذشته کمک نماید.

تجربه نشان داده تا آنگاه که دولت برنامۀ مشخص و ارادۀ جدی برای مبارزه با فساد اداری، حکومتداری خوب و مبارزه با فقر و بی‌کاری، مواد مخدر و تامین امنیت در کشور نداشته باشد، کمک‌های جهانی هیچ مشکلی را حل نخواهد کرد.

ACKU

## افغان کډوال او له پاکستانه يې د راستنېدو قضيه



له ۲۰۰۲ کال راهيسې تقريباً ۵.۷ مېليونه افغان کډوال بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي دي[1]؛ خو لاهم د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو په تېره ګاونډيو هېوادونو کې يو زيات شمېر افغانان د مهاجرت شپې ورځې تېروي. دا مهال يوازې په پاکستان کې د افغان کډوالو شمېره له درې مليونو زياته ده، چې له دې جملې څخه ۱.٦ مليونه يې راجستر شوي او پاتې نور يې ناراجستر کډوال دي.[2]

د تېر ميلادي کال (۲۰۱۴) د ډسمبر په ۱٦مه په پېښور کې پر يوه پوځي ښوونځي د بريد له کبله د افغان کډوالو موضوع هم يو ځل بيا راګرمه شوه او پاکستان هلته د مېشتو افغانانو پر وړاندې خپل چلند بدل کړ. د افغان حکومت لپاره هم له سولې او امنيت وروسته، په اوسني وخت کې دا قضيه ځکه هم ډېره مهمه ده، چې افغان کډوالو له تېرو دوو مياشتو راهيسې د پاکستاني پوليسو د فشار په پايله کې په پراخه کچه هېواد ته رامخه کړې ده. له همدې کبله د افغانستان د کډوالو وزير سيد عالمي بلخي پاکستان ته په يو اوږده سفر ولاړ او د دغه افغان چارواکي له سفر وروسته، د هېواد اجرائيه رئيس ډاکتر عبدالله عبدالله هم غواړي، چې د دغې قضيې په تړاو پاکستان ته سفر وکړي.

---

[1] See online:
http://www.unhcr.org/afghanistan/solutions-strategy.pdf

[2] See online:
http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/2015/03/150311_zs_afghan_refugees_pakistan

## د افغان کډوالو د راستنېدو بهیر (جنوري-مارچ)

په پاکستان کې د وضعیت له بدلېدو سره ډېری افغان کډوالو د خپل هېواد پر لور رامخه کړه، چې ډېری یې ناراجستر شوي افغان کډوال وو. د IOM یا د کډوالۍ د نړیوالې اداري د څېړنې له مخې، د روانې میلادي میاشتې (مارچ) تر اوومې نېټې پورې "۴۷٦۹٦" تنه ناراجستر افغان کډوال هېواد ته راستانه شوي، چې ډېره برخه (۵۳ سلنه) یې په ننګرهار او بیا په ترتیب سره په کونړ، لغمان، کندوز او کابل کې مېشت شوي دي.[3] (په لومړي او دویم جدول کې ارقام وګورئ).

د UNHCR یا د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري د څېړنو له مخې، د ۲۰۱۵ کال په لومړیو دوو میاشتو کې تقریباً "۷۷۲۱" راجستر شوي افغان کډوال هېواد ته راګرځېدلي دي (۳۸۷۹ په جنورۍ او ۳۸۴۲ یې په فبرورۍ میاشت کې). خو که دغه ارقام له تېر کال (۲۰۱۴) سره پرتله کړو، نو هغه مهال یوازې ٦۱۲ راجستر شوي افغان کډوال هېواد ته راستانه شوي وو.[4]

**لومړی جدول: له پاکستانه راستانه شوي ناراجستر افغان کډوال (تورخم)**

| نېټه | په خپله خوښه | اخراج شوي | مجموعه |
|---|---|---|---|
| جنوري (۲۰۱۵) | ۲۲۲۷۴ تنه | ۱۴۷۲ تنه | ۲۳۷۴٦ تنه |
| فبروري (۲۰۱۵) | ۱۸۹۳۵ تنه | ۱۵۷۵ تنه | ۲۰۵۱۰ تنه |
| مارچ (۱-۷) | ۳۰۸۸ تنه | ۳۵۲ تنه | ۳۴۴۰ تنه |
| مجموعه | ۴۴۲۹۷ تنه | ۳۳۹۹ تنه | ۴۷٦۹٦ تنه |

ماخذ: International Organization of Migration

[3] International Organisation of Migrations, return of undocumented Afghans from Pakistan, update as of 7th March 2015.

[4] Christine Roehrs, The refugee dilemma: Afghans in Pakistan between expulsion and failing aid schemes, Afghanistan Analysts Network, 9th March 2015

**دویم جدول: د زیاتوالي د اوسط مقایسه (۲۰۱۴-۲۰۱۵)**

| ډول | ۲۰۱۴ | ۲۰۱۵ | مقایسه |
|---|---|---|---|
| په خپله خوښه | ۵۹ تنه په ورځ کې | ٦۷۱ تنه په ورځ کې | ۱۱ چنده زیاتوالی |
| اخراج شوي | ۱۰ تنه په ورځ کې | ۵۲ تنه په ورځ کې | ۵ چنده زیاتوالی |

ماخذ: IOM (International Organization of Migration)

## د اسلام آباد دریځ:

په پېښور کې د وروستي برید له کبله پر افغان کډوالو هم د ژوند کړۍ راتنګه شوه. پاکستان دغه پېښه خپله د ۱۱ سپټمبر حادثه وګڼله او په ظاهري توګه یې په هېواد کې دننه خپله تګلاره د لومړي وزیر نوازشریف له خوا د وړاندې شوو ۲۱ نکاتو له مخې، بدله کړه. په دغو نکاتو کې د افغان کډوالو بېرته ستنول هم شامل وو.

دا چې افغان کډوال د پاکستان په دفاعي او تروریزم-ضد تګلاره کې ولې ورګډ شول، نواز شریف یې په اړه څه ونه ویل؛ خو داسې ګنګوسې هم خپرې شوې، چې د پاکستان په اند، په دې پېښه کې د افغانانو لاس و. ځینې پاکستاني مطبوعاتو داسې خبرونه هم خپاره کړل، چې په یاد شوي برید کې د شپږو بریدګرو له ډلې څخه دوه یې افغانان وو[5]. خو له دغو ټولو ادعاوو سره سره بیا هم جګپوړو چارواکو د دارنګه خبرونو پخلی ونه کړ.

اوسمهال د افغان کډوالو په تړاو د پاکستان د حکومت دریځ دا دی، چې ژر تر ژره افغان کډوال بېرته خپل هېواد ته ستانه کړي. په دې اړه دوی څو ځله په ډاګه کړې، چې په پاکستان کې ناراجستر شوي افغان کډوال غیرقانوني دي او له دوی سره به د قانون له مخې چلند وشي؛ مګر د راجستر شویو افغان کډوالو په اړه بیا پاکستان نړیوالو ته داسې ښیي، چې ۲۰۱۵ کال به د افغان کډوالو لپاره په پاکستان کې وروستی کال وي.

[5] Express Tribune, 11 militants carried out Peshawar school attack: Police report, dec 23, 2014. See it online at: http://tribune.com.pk/story/811044/11-militants-carried-out-peshawar-school-attack-police-report/

ACKU

په پاکستان کې د کډوالو په اړه له وروستي دريِ اړخيز کنفرانس[6] وروسته پرېکړه شوې، چې په راروانو څلورو میاشتو کې به ناراجستر افغان کډوال راجستر کړي؛ خو د راجستر شويو افغان کډوالو د کارډونو د مودې غځولو په اړه څرګنده خبره نه ده شوې. داسې برېښي، چې د ۲۰۱۵ کال تر پایه به د ټولو کډوالو (راجستر شویو او ناراجستر افغان کډوالو) بېرته راتګ ستونزمن وي او د کال په پای کې به دوی د تېر په څېر (لکه په ۲۰۱۲ کال کې)[7] یو ځل بیا بې سرنوشته پاتې شي او یا به یې هغه مهال د کارډونو موده تر یوه لنډ مهاله پورې بیا وغځول شي.

## د کابل دریځ:

د افغانستان ولسمشر اشرف غني مشرانو جرګې ته په خپلې لومړنۍ وینا کې په ډېر صراحت سره وویل، چې افغان مهاجرین د افغانستان ملت یوه برخه ده او د مهاجرینو بېرته نه راتګ به افغان ملت ناقص کړي[8]. د افغانستان اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله هم د افغان کډوالو په اړه ورته نظر لري او ښايي دی به هم ډېر ژر پاکستان ته د همدې قضیې په تړاو سفر وکړي.

د افغانستان د کډوالو چارو وزیر عالمي بلخي د همدې قضیې د حل په موخه پاکستان ته داسې مهال سفر وکړ، چې له تېرو دوو میاشتو راهیسې په پاکستان کې له افغان کډوالو سره د پاکستاني پولیسو د بد چلند ډېر راپورونه خپاره او له کبله یې له ۵۰ زره زیات افغان کډوال هېواد ته راستانه شوي دي.

افغان پلاوي په دغه سفر کې د پاکستان له لومړي وزیر، د بهرنیو چارو له سلاکار وزیر او د خیبرپښتونخوا له والي سره ولیدل او د کډوالو په اړه یې، په یوه دريِ اړخيز کنفرانس کې هم ګډون وکړ. ویل کېږي، چې د دغه دريِ اړخيز کنفرانس بله ناسته به په جنیوا کې د پاکستان، افغانستان او د UNHCR ترمنځ ترسره کېږي.

---

[6] دا پرېکړه پاکستان د افغانستان د کډوالو چارو د وزیر سید حسین عالمي بلخي د سفر پر مهال د افغان پلاوي، پاکستاني چارواکو او د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې یا UNHCR په دريِ اړخيز کنفرانس کې وشوه.

[7] په ۲۰۱۲ کال کې هم د افغان کډوالو د کارډونو موده پای ته ورسېده او تر ۲۰۱۴ کال پورې یې په اړه څه مشخصه پرېکړه ونه شوه، چې په دې موده کې افغان کډوال د پاکستاني پولیسو له خوا هم ځوروړل کېدل.

[8] See online:

http://morr.gov.af/fa/news/41816

که څه هم په اوسني وخت کې له سولې او امنیت راوروسته د افغان کډوالو بیا راستنیدنه د افغان حکومت لومړیتوب برېښي[9]؛ خو بیا هم د افغانستان هڅه دا ده، چې د کډوالو راستنېدل په تدریجي ډول ترسره شي او په اجباري توګه د غیر قانوني کډوالو ایستل بند شي.

که د کډوالو راتګ د تېرو دوو میاشتو په څېر دوام ولري، نو دا به د افغانستان پر دولت زیات فشار راوړي، چې له همدې کبله افغان حکومت پرځای ګامونه پورته کړل او د کډوالو د راتګ په تړاو یې دا ډول دریځ غوره کړ:

1. په خپله خوښه او په عزت سره د کډوالو راستنېدل؛
2. په تدریجي ډول راستنېدل.[10]

د دې لپاره چې د ناراجستر کډوالو راتګ ودرول شي او هغوی د پاکستاني پولیسو له خوا ونه ځورول شي، د پاکستان حکومت د افغان حکومت د غوښتنې له مخې، د دغو ناراجستر کډوالو راجسترېشن ته چمتو شوی، چې تر ځلورو میاشتو پورې به ټول افغان کډوال راجستر کړي.

## پر دوه اړخیزو اړیکو د کډوالو د قضیې اغېزې:

د افغان کډوالو ستونزه نه یوازې دا چې سیاسي، اقتصادي او امنیتي اړخونه لري بلکې یوه انساني داعیه هم ده. نه د پاکستان په ګټه ده، چې افغان کډوال د خپلې خوښې خلاف هېواد ته په اجباري ډول راستانه کړي او نه هم د افغانستان په ګټه ده، چې خپلو څو مېلیونه کډوالو ته په یوه وخت هرکلی ووایي.

---

[9] د افغانستان د کډوالو وزیر عالمي بلخي څو ځله ویلي، چې د کډوالو راستنېدنه د ملي وحدت حکومت له لومړیتوبونو څخه دي. وګورئ د کډوالو وزیر له فارس نیوز سره مرکه:

http://www.farsnews.com/newstext.php?nn=13931120001616#sthash.OTOz0nZi.dpuf

همدا راز د اسلام اباد په درې اړخیز کنفرانس کې د نوموړي څرګندونې:

http://pa.azadiradio.org/content/article/26895906.html

[10] په اسلام آباد کې د افغان کډوالو په اړه په درې اړخیز کنفرانس کې د افغانستان د کډوالو چارو د وزیر عالمي بلخي څرګندونې.

د لازیاتو معلوماتو لپاره د آزادی راډیو دغه خبر، بلخي: له پاکستانه د افغان کډوالو ستنېدنه باید پخپله خوښه او درناوي ترسره شي، په لاندې لینک کې وګورئ:

http://pa.azadiradio.org/content/article/26895906.html

د دواړو هېوادونو په ګټه ده، چې دغه ستونزه په همغږۍ سره حل کړي؛ ځکه له یوې خوا به پاکستان د دې قضیې له لارې په افغانستان کې نرم ځواک ترلاسه کړي او له بلې خوا به په اقتصادي توګه افغان حکومت هم تر ډېر فشار لاندې نه راځي او همدا راز پاکستان ته به یې هم اقتصادي زیان نه رسېږي.

د دې ترڅنګ له افغان کډوالو سره د پاکستان د حکومت ناسم چلند نه یوازې دا چې د دواړو هېوادونو د حکومتونو پر اړیکو منفي اغېز ښندي، بلکې د دواړو هېوادونو د ملتونو ترمنځ هم شته اشتراکاتو ته په کتو سره منفي پایلې لرلی شي.

پای

---

**ارتباط با ما:**

ایمیل:info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (+93)

ACKU